لومړۍ کچه


# خوبو وړی بابو




**ليکوال:** کيرن کاستوريا
**انځور ګر**: شويتا مهاپترا

THE YALDA HAKIM FOUNDATION
Educate-Empower-Inspire


Smile Please(Pashto), Published by Pratham Books, under a CC BY 4.0 license on StoryWeaver .



خوبو وړی بابو غواړي چې ویده شي او نشي کولای چې وختي له خوبه پاڅیږي.
خو رام ګل دوبي، ډیری وخت په خوبو وړي بابو غصه کیږي.



یوه ورځ ټاغ سترګې غوا له خوبو وړي بابو څخه وپوښتل: ”ولې خفه يې“؟
خوبو وړي ځواب ورکړ: ”نشم کولای له خوبه وختي را ويښ شم او رام ګل تل پر ما غوصه وي.“
خوبو وړي بابو ټاغ سترګې غوا ته وويل:“ آيا ته کولای شي هر سهار ما له خوبه را ويښ کړې؟“ ټاغ سترګې غوا وويل: ”هو.“
بله ورځ سهار وختي غټ سترګې غوا په لوړ غږ رمباړه کړه، اما خوبو وړی بابو له خوبه را ويښ نشو.



کله چې خوبو وړی بابو ماښامي له سیند څخه بیرته کور ته را روان ؤ، چې اوږد غوږی توتو (سپی) پر مخه ورغی او ورته یې وویل: "زه له خوبه وختي نشم راویښیدی، ته کولای شئ ما له خوبه وختي را ویښ کړئ؟"
اوږد غوږي توتو ورته وویل: "هو"
امابل سهار اوږد غوږي توتو په غپیدا شروع وکړه او وې غپل، خو خوبو وړی بابو له خوبه را ویښ نشو.




هماغه ماښام خوبو وړی بابو له کلنګي چرګ سره مخ شو. خوبو وړي بابو کلنګي چرګ ته وویل: ”ته سهار وختي آذانونه کوې او خلګ له خوبه را ویښوې، کولای شې ما هم له خوبه را ویښ کړې؟“

کلنګي چرګ ومنله.

بل سهار کلنګي چرګ په آذان پیل وکړ او په لوړ غږ یې آوازونه پورته کړل، خو خوبو وړی بابو را ویښ نشو.



بل ماښام خوبو وړی بابو له توركي كارغه سره مخ شو او توركي كړغ، كړغ آوازونه ويستل.
خوبو وړي بابو توركي ته وويل: ”كولای شې سهار وختي ما له خوبه راويښ كړې؟“
توركي وويل: ”ولې نه، زه به سهار په كړغيدو شروع وكړم او تا به راويښ كړم.“
سهار وختي توركي په كړغيدو شروع وكړه، خو خوبو وړی بيا هم راويښ نشو.



خوبو وړی بابو ډیر خفه ؤ.
بل سهار یو مچ راغی او د خوبو وړي بابو په مخ کیناست.
خوبو وړی بابو وپرینجیده، او پرینجه، پرینجه ... کشې پشې یې کولې او له خوبه را پاڅید.



”اوه! زه له خوبه را ویښ شوم. زه څنګه را ویښ شوم؟“،خوبو وړي بابو په حیرانۍ سره یې وویل.
مچ وویل: ”ما ته له خوبه را ویښ کړې.“ خوبو وړي بابو مچ ته وویل: ”کولای شې هر سهار وختي ما له خوبه را ویښ کړې؟“
مچ وویل: ”هو“
خوبو وړی بابو ډیر خوښ شو. اوس به نو خوبو وړی بابو د راویښیدو هیڅ ستونزه ونلري.

# لارښودونکې پوښتنې

1) ولې خوبو وړی بابو خفه ؤ؟
2) په پای کې خوبو وړي بابو خپله ستونزه څرنګه حل کړه؟
3) آیا کوم کس سهار تاسو له خوبه را ویښوي؟ آیا غواړئ سهار وختي له خوبه را ویښ شئ؟ ولې یا ولې نه؟
4) ولې فکر کوئ چې خوب اړین ده؟ آیا خلک باید ډیر ویده شي؟
5) که تاسو وغواړئ چې خوبو وړی بابو وختي له خوبه را ویښ کړئ، نو څه به وکړئ؟